


فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا



د نشر نېټه : ۱۵ جنورى ۲۰۱۳م


# ځنګه دې مينې ته اوزګاره شمه

قربان قربان دې شمه زما د زړه تسکينه
زما د سترګو توريې زما ليمه تسکينه
منم چې زه به دې په زړه کې يمه
د زړګي هر درد به دې ما يادوي
اخ در قربان شمه له توري ځېړې
ټوله شپه غم دى شوګيرې دې ته يې
له خدايه ج ما غوارې سجدې دې ته يې
زما شاعر زما تسکينه ګله
منمه هره پاڼه
د شعر په ښکلو تورو
زما په نوم توروې
منم دا هرڅه منم
ټول درک کولاى شمه
زه هم انسان يم محبت او عاطفه لرمه
زه يوه پيغله پښتنه يمه اثره لرمه
ستا پاک احساس او محبت ته دې سلام وي سلام
د شاعرى دې لوى عظمت ته دې سلام وي سلام
خو ماته غوږشه
ماته هم بلا غمونه پراته

يو د غربت بل مې د ورور
په زړه دردونه پراته
هغه دردونه چې يې زه مصروفه کړې يمه
هغه دردونه چې له ژونده يې ايستلې يمه
پلارمې بوډا،مور مې بوډۍ ده
د مرګ شپې تيروي
د دوی همدغه لوی ارمان دی
چې پوره شي بايد
پوهنتون ووايمه زده کړې وکړم
په داسې حال کې وايه څنګه دې مينې ته اوزګاره شمه
چې ستا ليلو شم
او ستا هر احسان پوره کړمه زه

*****

فريد احمد تسکين ـ پکتيا ميډيا سنتر
۲۴ /۱۰/۱۳۹۱مرغومی

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org